Warwickshire County Council
د وارویکشایر کونټي کونسل



# د ۳ او ۴ کلنو ماشومانو لپاره لومړني زده کړې

# او د ماشوم ساتنې حقوق

څنګه کولی شی خپلې تمویل شوي لومړني زده کړې ځای ته لاسرسی ومومئ

## که چېرې ستاسو ماشوم۳ یا ۴ کلن وي دوي کولې شي د ښوونځي د دورې له پیل څخه د ۳یمی زیږ کلیزې نه وروسته د لومړنیو زده کړو لپاره  تمویل کړل شوي ځایونه لاس ته راوړي او تر هغه چې دوي د ښوونځی د داخیلیدو قانوني عمر ته ورسیږي یا د ښوونځي د استقبال (ریسپشن) ټولګي پیل کړي، هر یو یې چې لومړنی وي.

| تمویل شوي وړیا ځایونه ورته پیل کیږي له: | زیږیدلي ماشومان مابین د: |
|---|---|
| د اوړي دوره (له ۱ د اپریل نه) | ۱ د جنوری نه تر ۳۱ د مارچ پورې |
| د مني دوره (له ۱ د سپتمبر نه) | ۱ د اپریل نه تر ۳۱ د اګست پورې |
| د پسرلي دوره (له ا د جنوری نه) | ۱ د سپتمبر نه تر ۳۱ د دسمبر پورې |

### د لومړیو کلونو امتیازات او امکانات له دغو څخه جوړ شوي دی:

- ۱۵ عمومی ساعتونه
- ۳۰ اوږده کړل شوی ساعتونه
- دلومړیوکلونو زده‌کړوبونس(EYPP)
- معلولیت سره د لاسرسی بودیجه (DAF)

### زما ماشوم چېرته ځای تر لاسه کولې شي؟

ستاسو ماشوم کولی شي د لومړیو کلونو زده کړې هغو د لومړیو زده کړو چمتو کونکو سره پیل کړي چې هغه دا دي :

- د بشپړې ورځې د پاملرنې ورکتون
- د ښوونځی دمخه ورکتونونه
- د لوبو ګروپونه
- د ماشومانو ساتونکي
- د ورکتونو ښوونځیاو ټولګي

د

دا د لومړیو کلونو چمتو کونکي باید د آفسټډ Ofsted سره ثبت وي. دوي ستاسو د ماشوم د ځاي لپاره مستقیما د واریکشیر ښارګوټي شورا څخه د تمویل د مصارف  د غوښتنې مسؤلیت لری  او د دغه کار دکولو لپاره دوي باید  راجستر وي.





## عمومي امتيازات – ۱۵ ساعته

ټول ماشومان د دوي د دریمي کلیزې نه وروسته د دغه عمومي امتیاز چې ۱۵ ساعته دوره ده مستحق او وړ دي. په عمومي ډول دغه امتیاز په کال کې د ۵۷۰ ساعتونو لپاره دي، په اوږدو دې لږ تر لږه ۳۸ اونیو کال کې (چې په اونۍ که په اعظمي ډول تر ۱۵ ساعتونو رسي). دغه امتیاز له ۳۸ اونیو نه تر ۵۲ اونیو پورې هم غزیدلی شي په دغه شرط چې لږ ساعتونه په ډېرو اونیو کې په پام کې ونیول شي. مهرباني وکړئ د لومړنیو کلونو چمتوکونکو سره د معلوماتو لپاره اړیکه ټینګه کړئ چې څنګه دوي دغه تمویل شوی ځایونه او امتیازات وړاندې کوي.

## اوږده کړل شوي امتیازات – ۳۰ ساعتونه

تاسو کولی شئ د خپل ۳ یا ۴ کلن ماشوم لپاره په کال کې د ۳۸ اونیو چې په اونۍ کې تر ۳۰ ساعتونو پورې تمویل شوي ځاي تر لاسه کړئ، البته که تاسو دغه لاندني معیارونه پوره کړئ:

- ➢ تاسو داسې کاري کورنۍ یې چې کار کوئ او په اونۍ کې د ۱۶ ساعتونو معادل معاش د ملی معاش او د ژوندانه د معیار په تناسب لاس ته راوړئ.
- ➢ تاسو د کال د ۱۰۰۰۰۰ کم عاید لرئ.
- ➢ ستاسو د ماشوم موده د ۳ کلنۍ زوکړې ورځې نه تیره ده یا تاسو د راتلونکي مودې لپاره د ۳۰ ساعتونو معتبر کوډ تر لاسه کړي، هر یو یې چې د مخه وي.

## د ۳۰ ساعتونو لپاره د غوښتنلیک پروسه:

- ➢ د کومې مودې د مخه چې غواړې د ځاي غوښتنه ورکړي له دې ځاي نه غوښتنه انلاین وکړئ www.childcarechoices.gov.uk
- ➢ که چېرې تاسو بریالي وختئ، HMRC (د شاهی عواید او ګمرکاتو اداره) تاسو ته به ستاسو د خوندي او پټ حساب له لارې د ۳۰ ساعتونو ځاي لپاره وړتیا کوډ درکړي کوم چې تاسو یې باید د خپل د ماشوم پاملرنې چمتوکونکو ته ورکړئ.
- ➢ ستاسو د ماشوم پاملرنې چمتوکونکی به وګوري چې آیا ستاسو کوډ معتبر دي. بیا تاسو کولی شئ د لاندنې مودې لپاره د ۳۰ ساعتونو ځاي خوندي کړئ. کوډ باید د پخوانۍ مودې وروستي ورځې یا مخکې د اعتبار پیل نېټه ولري:
  - • د مني دوره: د اعتبار د پیل نیټه د اګست په ۳۱مه یا مخکې
  - • د پسرلي دوره: د اعتبار د پیل نیټه د دسمبر په ۳۱مه یا مخکې
  - • د دوبي دوره: د اعتبار د پیل نیټه د مارچ په ۳۱مه یا مخکې
- ➢ تاسو اړیئ چې په هرو ۳ میاشتو کې خپل خوندي حساب ته ننوځئ او خپله وړتیا بیا څرګنده او تأیید کړئ. تاسو به د HMRC لخوا هم د نېټې څخه ۴ اونۍ دمخه خبرداری او یادونه تر لاسه کړئ.

**دنورو معلوماتو او د ۳۰ ساعتونو د کوډ د تر لاسه کولو لپاره مهربان وکړئ دلته ولاړ شئ:**

**www.childcarechoices.gov.uk**

## زه څنګه ګولې شم رما د لومړیو کلونو د امتیازاتو ادعا وکړم؟

د لومړیو کلونو امتیازات هغو ته چې دلومړیو کلونو چمتوکونکی ستاسو ماشوم هلته حاضري ورکوي او په مستقیم ډول ورکول کیږي. هغوي دغې ونډې ته درخواست ورکوي ستاسو په استازیتوب کله چې تاسې د موراوپلار د اعلامیې فورمه (PDF) هغوي سره ډکه کړئ.



## د لومړیو کلونو د زده کړې پریمیم

د لومړیو کلونو زده کونکو پریمیم (EYPP) هغه اضافي تمویل دی، چې د وړاندیز کونکو لخوا ادعا یې کیدی شي څوک چې ماشومان لریاو هغوي د 3 او 4 کالو د عمومی امتیاز تمویل ترلاسه کوي او که چیرې چې د ماشوم موراوپلار د وړتیا ګټو ترلاسه کولو اختسونکی او مستحق وي.

یو ماشوم به د لومړیو کلونو زده کونکو امتیاز(EYPP) لپاره وړ وي که چېرې:

- ➢ د ده والدین د لاندې ګټو یا کریډیټونو څخه یو یا ډیر ترلاسه کوي

- د عایداتو ملاتړ (ان کم سپورټ)
- د عایداتو پر بنا د کار لټونکي استحقاق (ان کم بیسد جاب سیکر الوانس)
- د عایداتو په تړاوو د کارموندنې او ملاتړ استحقاق (ان کم ریلیټید ایمپلویمینټ اینډ سپورټ الوانس)
- د ۱۹۹۹ کال دکډوالۍ او پناه غوښتنې قانون د ۶ برخې لاندې ملاتړ
- د تضمین کړل شوي دولتی تقاعد د کریډیټ عنصر
- که چېرې ستاسو کلنی عاید تر ۱۶،۱۹۰ پونډو کم وي، نو د ماشوم د مالیې د کریډیټ وړتیا، نه د کار د مالیې د کریډیټ په ترڅ کې
- د کار د مالیې د کریډیټ په روان جاری حالت کې – که چېرې ۴ اونۍ وروسته چې ستاسو وړتیا د کار د مالیې کریډیټ اعتبار ودریږي.
- عمومی کریډیټ – که چېرې موراوپلار یې د عمومی کریډیټ (یونیورسل کریډیټ) مستحق وی او خالص کلنی عاید یې له ۷۴۰۰ پونډو نه زیات نه وي، د موراوپلار تر دریو وروستنیو د یونیورسل کریډیټ د ارزونو په اساس او موده کې څېړل کېږي.

یا

- ➢ ماشوم دا لري چې

- لږترلږه د یوې ورځې لپاره د ځایی چارواکو لخوا تر پاملرنې لاندې نیول شوی دي
- پاملرنه یې پریښې د ځانګړي کفالت په سلسله کې
- د ماشوم د انتظاماتو په هکله قانونی حکم جاري شوي

## څنګه باید ادعا وکړئ

د EYPP د ادعا کولو او غوښتلو لپاره، تاسو باید د EYPP غوښتنلیک سره له د PDF فورمې سره دکه کړئ کومه چې ستاسو د لومړیو کلونو چمتو کونکو لخوا درکړل شوي ده لاسلیک کړئ.

## معلولیت سره د لاسرسی بودیجه (DAF)

د معلولیت سره د لاسرسی بودیجې (DAF) د ورتیا لپاره ۳ او ۴ کلن ماشومان باید دغه معیارونه پوره کړي :

- ماشوم د معلولیت ژوندانه استحقاق (DLA) اخلي – (یو مثنی د هغو ثبوتونو باید د ماشوم د پاملرنې چمتوکونکو ته ورکړل شي)

او

- ماشوم یو څه یا ټول د نړیوال عمومي ۱۵ ساعتونو حق ترلاسه کوي

## څنګه ادعا وکړئ

د معلولیت سره د لاسرسی بودیجې DAF د ادعا کولو لپاره، تاسو باید په بشپړ ډول د DAF غوښتنلیک ډک او لاسلیک کړي او هغه د والدینو د اعلامیې فورمه PDF هم لاسلیک کړئ کوم چې تاسو ته د لومړیو کلونو د مرستو د چمتوکونکو لخوا درکړل شوې ده .

## د لومړیو کلونو توضیحات

.

.

## مکرري پوښتنې

- لګښتونه

د لومړیو کلونو امتیازات د دې لپاره دي چې په اونۍ کې ۱۵ یا ۳۰ ساعته تمویل شوي، لوړ کیفیت لرونکي، انعطاف منونکي ماشوم ته پاملرنې باید وړاندې کړي. دا د خواړو لګښت، نورو مصرفي توکو، اضافي ساعتونو یا اضافي خدماتو پوښلو لپاره ندي. تاسو باید د هر هغه اضافي خدماتو لپاره پیسې ورکړئ چې ستاسو ماشوم یې ترلاسه کوي.

- آیا زه کولی شم د لومړیو کلونو چمتوکونکو څخه په څو ځایونو کې د لومړیو کلونو د ورتیا د ورکړې په هکله ادعا وکړم؟
  هو، په یوې ورځ کې تر اعظمي حد پورې په ۲ ځایونو کې تاسو کولی شي غوښتنه وکړئ.

- آیا زه کولی شم خپل تنظیمات بدل کړم؟

تمویل عموما د ټولې مودې لپاره چمتوکونکو ته تأدیه کیږي د ماشوم د ورځنۍ حاضرۍ د سر حساب اوګډون په اساس. که چېرې ستاسو ماشوم مخکې یا وروسته، بل چېرې انتقال کوي نو ضروري ده چې تاسو د خپل د لومړنیو کلونو چمتوکونکې سره خبرې وکړئ ترڅو وموئ چې آیا دوی موافقه کوي چې کوم بل تمویل کونکې ته مالي مرستې ور انتقال کړي.





په وارواکشاير کې د ماشوم د پاملرنې چمتو کونکو په اړه د نورو
معلوماتو لپاره مهرباني وکړئ د کورنۍ معلوماتو خدماتو سره په لاندې
ډول اړیکه ونیسئ:
۰۱۹۲۶۷۴۲۲۷۴ یا
www.warwickshire.gov.uk/fis

د تمویل په اړه د عمومي پوښتنو لپاره مهرباني وکړئ د لومړیو کلونو تمویل
ټیم سره په دې اړیکه ونیسئ
۰۱۹۲۶۷۴۲۲۳۵ یا
www.warwickshire.gov.uk/childcarecosts

د ۳۰ ساعتونو د تمویل د وړتیا او آنلاین غوښتنلیک
پوښتنو لپاره، مهرباني وکړئ دلته اړیکه ونیسئ:

د HMRC د پیرودونکو د تعامل مرکز سره اړیکه دلته
ونیسئ:
۰۳۰۰۱۲۳۴۰۹۷
www.childcarechoices.gov.uk





Warwickshire County Council

Working for Warwickshire